# د افغانستان اقتصادي پرمختګ

## خبرپاڼه

نېټه: ۱۴۰۵/۰۵/۱۵

درېیم کال - ۱۸ مه ګڼه | پرله‌پسې ۸۰ مه ګڼه



په افغانستان کې هره اوونۍ په بېلابېلو سکتورونو کې مهم اقتصادي فعالیتونه او پرمختګونه رامنځته کېږي. د افغانستان اقتصادي پرمختګ (خبرپاڼه) همدغو مهمو او وروستیو اقتصادي فعالیتونو او پرمختګونو ته پوښښ ورکوي.

### په دې ګڼه کې لولئ:

۱- د کانونو سکټور کې د پانګونې پراختیا؛ د اقتصادي ودې او کاري فرصتونو نوی پړاو


۲- د افغانستان او ازبیکستان اقتصادي همکارۍ؛ د سوداګرۍ، پانګونې او سیمه ییز اتصال پراختیا

# د کانونو سکتور کې د پانګونې پراختیا؛ د اقتصادي ودې او کاري فرصتونو نوی پړاو



د افغانستان د کانونو سکتور د افغانستان اسلامي امارت د بیاځلي واک ته رسېدو وروسته د پام وړ پرمختګ کړی او د هېواد د اقتصادي ودې په بهیر کې یې مهم ځای خپل کړی دی. د اسلامي امارت ویاند مولوي ذبیح الله مجاهد «حکومت د مطبوعاتو په هینداره کې» کنفرانس کې ویلي، چې د تېر یو کال په ترڅ کې د کانونو د اکتشاف، استخراج او پانګونې په برخه کې د پام وړ لاسته راوړنې ثبت شوې دي. د معلوماتو له مخې، په ۲۸ ولایتونو کې ۴۵ نوې کانیزې ساحې کشف او ثبت شوې، ۳۵۰ کانیزې پروژې داوطلبۍ ته وړاندې شوې یا ورته جوازونه صادر شوي او د لویو او کوچنیو کانیزو پروژو په برخه کې له لس میلیارد افغانیو ډېره پانګونه جذب شوې ده. په همدې لړ کې د دایکندي د مرمرو او د تخار د سرو زرو لویې پروژې، سربېره پر ۸۵ نورو کوچنیو کانیزو پروژو، له کورنیو او بهرنیو پانګوالو سره قرارداد شوې دي. د کانونو په سکتور کې د پانګونې پراختیا یوازې د طبیعي زیرمو د استخراج معنی نه لري، بلکې د هېواد د اقتصادي فعالیتونو د پراخېدو، د خصوصي سکتور د ودې د زیاتېدو او د سیمې د خلکو د اقتصاد د پیاوړتیا له پاره هم مهم ګام بلل کېږي. د کانونو د قراردادونو له لارې شاوخوا ۵۰ زره مستقیم کاري فرصتونه رامنځته شوي، چې دا د بېکارۍ د کمولو او د کورنیو عایداتو د لوړولو په برخه کې مهم پرمختګ ګڼل کېږي. همدارنګ، د ۱۱۳۸ مسلکي کان کېندنې او ۷۲ کانیزو موادو د پروسس جوازونو صادرېدل د دې ښکارندویي کوي، چې د خامو موادو د استخراج ترڅنګ د پروسس صنعت ته هم پاملرنه ډېره شوې ده. د پروسس صنعت پراختیا د صادراتو کیفیت ښه کوي او د هېواد له پاره د بهرنیو اسعارو د ترلاسه کولو ظرفیت زیاتوي. د اسلامي امارت د ویاند په وینا، د کانونو د نوي قانون، تخنیکي پالیسیو، طرزالعملونو او د پانګونې د جلب ستراتیژۍ پر مسودو کار روان دی، چې دا د دې سکتور د معیاري کولو او پانګوالو ته د لا خوندي حقوقي چاپېریال د برابرولو په برخه کې مهم اقدام ګڼل کېږي. د دې اصلاحاتو په پلي کېدو سره تمه ده چې د کانونو سکتور به د افغانستان د اقتصادي ودې، صادراتو، صنعتي پراختیا او دوامداري پانګونې په مهم محرک باندې بدل شي.

# د افغانستان او ازبیکستان اقتصادي همکارۍ؛ د سوداګرۍ، پانګونې او سیمه ییز اتصال پراختیا



د افغانستان او ازبکستان ترمنځ اقتصادي اړیکې په وروستیو کلونو کې د پام وړ پراخه شوې دي او دواړه هېوادونه هڅه کوي چې د سوداګرۍ، پانګونې، ترانزیټ او سیمه ییز اتصال په برخو کې خپلې همکارۍ لا پیاوړې کړي. د صنعت او سوداګرۍ وزارت د معلوماتو له مخې، د تېر کال په ترڅ کې د دواړو هېوادونو ترمنځ د سوداګرۍ حجم نږدې یو میلیارد او ۲۰۰ میلیونه ډالرو ته رسېدلی، چې دا د اقتصادي اړیکو د پراختیا څرګند ثبوت ګڼل کېږي. تېر کال ازبکستان د افغانستان د صادراتو دریم ستر بازار و او یوازې په تېر کال کې دغه هېواد ته د افغانستان د صادراتو ارزښت ۱۵۱ میلیونه ډالرو ته رسېدلی دی. د صادراتو زیاتوالی نه یوازې د کورنیو تولیداتو له پاره د بازارونو پراخېدو لامل ګرځي، بلکې د بهرنیو اسعارو د جذب، د تولیدوونکو د عایداتو د لوړوالي او د صنعتي فعالیتونو د پراختیا له پاره هم مهم رول لري. بل لور ته د روان میلادي کال په لومړیو اوو میاشتو کې له ازبکستان څخه تر ۱۳ ډېر سوداګریز او اقتصادي پلاوي افغانستان ته راغلي دي. د دغو سفرونو په پایله کې د دواړو هېوادونو خصوصي سکتورونو د ودانیزو چارو، چرګانو روزنې، سیمنټو، خوراکي توکو، ډبرو سکرو، جامو او درملو په برخو کې نږدې ۲۹۰ سوداګریز تړونونه او تفاهم لیکونه لاسلیک کړي، چې ټولیز ارزښت یې څلور میلیارد ډالرو ته رسېږي. دا تړونونه د پانګونې د زیاتوالي، د تولیدي ظرفیت د لوړولو او د خصوصي سکتور د ودې له پاره مهم فرصتونه برابروي. د دواړو هېوادونو همکاري یوازې سوداګرۍ پورې محدوده نه ده، د برېښنا لېږد ځینې پروژې، د افغان-ټرانس د اورګادي پروژه، د ترانزیټي لارو پراختیا او د نویو سوداګریزو دهلېزونو رامنځته کول د افغانستان د سیمه ییز اتصال او ترانزیټي موقعیت د پیاوړتیا له پاره مهم بنسټونه جوړوي. د دغو پروژو عملي کېدل کولی شي د ترانزیټي عوایدو د زیاتوالي، د لېږد لګښتونو د کمېدو او د افغانستان د صادراتو د لوړېدو لامل شي.